د حزب التحرير
ولايه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحيم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

يکشنبه ۰۴ ربیع الثاني ۱۴۴۱هـ — ۰۱-۱۲-۲۰۱۹م — گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۰۳

اعلامیه

# په بګرام اډه کې د افغانستان د ولسمشر سپکاوي او ذلت
# د یوه مزدور چارواکي برخلیک ننداري ته وړاندې کړ

د امریکا ولسمشر د ټاکنو په یوه کمپایني سفر کې افغانستان ته راغی او د «شکرانې د ورځې» په مناسبت یې له امریکایي سرتېرو سره لیدنه وکړه. په دغه وخت کې د افغانستان ولسمشر د دولتدارۍ او ټولو اخلاقي اصولو خلاف د ټرمپ د لیدو لپاره بګرام اډې ته ولاړ او د خپل ذلت وروستۍ کچه یې ننداري ته وړاندې کړه. د افغانستان ولسمشر په دغه لیدنه کې خپله ټوله هڅه وکړه، ترڅو د چاپلوسۍ له لارې خپله بقا د افغانستان د قدرت په راتلونکي کې تضمین کړي، چې ډېرو خلکو د هغه دا کار تاریخي سپکاوی بللی دی.

د افغانستان ولسمشر په خپله وینا کې په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو سربښندنې وستایلې او په ویاړ یې اعلان وکړ چې د خپل حکومت په دوره کې یې د امریکایي ځواکونو تلفات تر ۵۲ تنو پورې راکم شوي دي. خو دا یې ونه ویل چې د امریکایي ځواکونو د تلفاتو د کموالي لپاره د افغانستان خلکو څومره ستره بیه پرې کړې ده او دغه چاره په هېواد کې د تابوت جوړولو، قبر کیندلو او قبرپلورلو د تجارت د غوړېدا لامل شوې ده. په پنځو کلونو کې ۵۰ زره افغان امنیتي ځواکونه د امریکایي جګړې د اور سونتوکي ګرځېدلي او سلګونه ملکیان وژل شوي او ټپي شوي دي.

که څه هم د افغانستان ولسمشر په خپله واکمنۍ کې د امریکا ګټو ته تر خورا لوړ پوړو امریکایي جنرالانو او وینې تویونکو سرتېرو ډېر خدمت کړی دی؛ خو بیا هم د یوه مزدور چارواکي وروستی برخلیک ذلت دی، چې د امریکا ولسمشر په بګرام اډه کې په خورا ناوړه ډول د هغه سپکاوی وکړ.

د افغانستان مسلمان خلک باید وپوهېږي چې ډیموکراسي داسې بې غیرته رهبران روزي چې هېڅ عزت او ویاړ پکې نه لیدل کېږي، دوی یوازې د خپل قدرت د بقا په فکر کې وي، ولو که په هره بیه وي. انساني احساس په دوی کې مړ دی، ذره شرم نه لري، غلام او خپلو بادارنو ته اېل شوي دي، حال دا چې باداران یې هېڅ اهمیت نه ورکوي. د اسلامي نظام تر سیوري لاندې زړور، باعزته او د امت غمخور رهبران رامنځ ته کیږي، چې د مسلمانانو د وینې، عزت او ناموس دفاع کوي او د اوسنیو چارواکو په څېر د امت پر تنده د ننګ داغ نه وي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**